ګڼه: (۴۵)
نیټه: ۵/۵ /۱۳۹۱

# د افغانستان اسلامي جمهوری ریاست

## د ملي شورا په فوق العاده غونډه کې د ۱۳۹۱ کال
## د چنګاښ د لومړۍ نېټې د تاریخي وینا د محتوی د تحقق په اړه

# فرمان

مونږ د افغانستان خلکو، له کلونو سیاسي انزوا، جګړو او ورانیو وروسته، په تیرو لسو کلونو کې نه یوازې داچې په سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي برخو کې د سترو بریالیتوبونو شاهدان وو، بلکې په نړیواله ټولنه کې مو خپل غوره ځای موندلی او د پراخو نړیوالو اړیکو په را منځته کولو سره وتوانیدو چې د سیمې او نړۍ له مهمو هیوادونو سره مهم ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړو.

په نوموړو برخو کې د سترو لاسته راوړنو تر څنګ، له بده مرغه د حکومتدارۍ، له فساد سره د مبارزې، د قانونیت ټینګښت او اقتصادي ځان بسیاینې په برخو کې له ننګونو سره مخ وو.

په همدې موخه د روان کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه د ملي شورا فوق العاده غونډې ته د وینا په ترځ کې، موجودې نقیصې او نیمګړتیاوې مطرح شوې او د هغو اقداماتو په اړه مې یادونه وکړه، چې د دې ستونزو د له منځه وړلو لپاره باید ترسره شي.

په یادو برخو کې لازیاتو بریاوو ته د لاسرسي، د موجودو ستونزو د رفع کولو او د دولت په درې ګونو ارکانو کې د لازمو اصلاحاتو په موخه، لاندې مراتب منظوروم:

**لومړی – د دولتي ادارو ترمنځ مشترک بحثونه:**

۱. د دولت درې ګوني ارکان د اساسي قانون په چوکاټ کې د قواوو د تفکیک اصل په رعایت سره ، د خپلو واکونو او دندو په اجرا او عملي کولو مکلف دي، د باور او همکارۍ په فضا کې دې داسې فعالیت وکړي چې د هر مالي کال په پای کې

پرمختیایي مالي لګښتونه د ورکړل شویو پیسو له (۵۰٪) څخه کم نه وي؛ اجراییه قوه د خپلو کړنو په هکله ولسمشر ته مسووله ده او رپوټ ورکوونکې ده؛

۲. د افغانستان د اسلامي جمهوريت له سترې محکمې څخه هیله کوم چې د شپږو میاشتو په ترڅ کې تر قضایي دوران لاندې ټولې دوسیې په خاصه توګه هغه دوسیې چې په اداري فساد، د ځمکې د غصب او زنځیره یي قتلونو پورې اړوندې دي، د هېواد په محکمو کې فیصله او نهایي کړي؛

۳. د افغانستان د اسلامي جمهوريت له سترې محکمې څخه هیله کوم چې د نهو میاشتو په ترڅ کې، د هېواد په ولایتونو او ولسوالیو کې ټولې غیر فعالې محکمې فعالې او هغه دې په مسلکي پرسونل اکمال کړي؛

٤. د افغانستان د اسلامي جمهوريت له سترې محکمې څخه هیله کوم چې په قانون کې له ټاکل شوې مودې سره سم، د متهمینو او مظنونینو د برخلیک د ټاکلولپاره، قضایي اجراآت ساده او پایلې دې د ټولیزو رسنیو له لارې خلکو ته ورسوي؛

۵. د هېواد د لوړتقنیني ارګان په توګه، له محترمې ملي شورا څخه هیله کوم چې ملي مصالحو، د افغانستان د خلکو لوړو ګټو ته په پاملرنې سره خپلې دندې او واکونه اعمال او د حکومت بیړنیو وړاندیزونو، معقولو او مشروع غوښتنو او دهغو ژرترژره پلي کیدو ته لومړیتوب ورکړي، په عین حال کې چې د حکومت د غړو له کړنو څخه ځارنه ترسره کوي، حکومت سره دې د قانون د حکمونو په رغنده تعمیل او د پرمختیایي پروژو په موقع او لا ښه پلي کېدو کې مرسته او همکاري وکړي؛

٦. له ملي شورا څخه هیله کوم چې د قوانینو، تقنیني فرمانونو او د حکومت لخوا د استول شویو موافقتنامو طرحې دې د څلورنیمو میاشتو په ترڅ کې تصویب کړي؛

۷. دولتي عالیرتبه نور مقامونه دې د قانون ماتوونکو ، مجرمینو، مفسدینو او ګنهکارانو له ملاتړ څخه ځان ګوښه کړي، د هېواد عدلي او قضایي ادارو ته لارښوونه کیږي چې د داسې مواردو په لیدو سره، د مداخله کوونکو اشخاصو پر وړاندې د دوی دولتي دندې او موقف ته له پاملرنې پرته، جدي قانوني اجراآت وکړي؛

۸ د کابینې غړي دې د پنځو میاشتو په ترڅ کې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د اړوندو سیمه ییزو واحدونو څخه کتنه تر سره او د هغوی د اړتیاوو، کمیو او کاري نیمګړتیاوو په رفع کولو کې دې اقدام وکړي او د پایلو رپوټ دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۹. دولتي لوړرتبه مقامات دې ، د کادرونو د مقرریو او استخدام په بهیر کې له سپارښتنو او وساطت څخه ډډه وکړي. ادارې او دولتي بنسټونه موظف دي چې د ملکي خدمتونو په بستونو، قضا، څارنوالۍ او پوهنتونونو کې د کادرونو د استخدام په وخت کې د قانون احکام جداً رعایت کړي ؛

۱۰. وزارتونه او دولتي ادارې، له هغې جملې څخه عدلي او قضایي ارګانونه، مؤظف دي څو، د خلکو ستونزو ته د رسیدو په موخه، په ځانګړې توګه په ولایتونو او ولسوالیو کې، د طرح شویو پلانونو د تطبیق د تګلارې، د ترسره شوو فعالیتونو، د عمده لاسته راوړنو او د خپل تشکیل او پرسونل د کیفیت په اړه بشپړ معلومات ترتیب، په مرکز کې د لومړۍ درجې آمر له تایید او تصدیق وروسته او په ولایتونو کې د والیانو له تصدیق او تایید وروسته دې، د هرې میاشتې په ۲۸ مه او ۲۹ مه نېټه د چارو ادارې لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا له لارې د جمهوري ریاست مقام ته لیکل شوی رپوټ وړاندې کړي؛

۱۱. عدلي او قضایي مراجعو ته هدایت ورکول کیږي چې هیڅ یوتن نه باید په هیڅ عنوان له قانوني موجباتو پرته زنداني، توقیف او یا تر نظارت لاندې و نیول شي او د محکومیت له مودې څخه زیات په زندان کې پاتې شي. د کورنیو چارو، عدلیې وزارتونه او د لویې څارنوالۍ اداره موظفه ده چې، په هرو دریو میاشتو کې یوځل د خپلو کړنو رپوټ د چارو د ادارې لوی ریاست او د وزیرانو شورا د دارالانشا له لارې د ا.ا. جمهوری ریاست مقام ته وړاندې کړي؛

۱۲. د غیر مجاز وسلو شتون د خونړیو پیښو د رامنځ کیدو، زور کارولو، د ځمکو غصبولو، د نورو په حقونو د تجاوز، د رسمي مراجعو د تصامیمو څخه د انحراف، د نظم او عدالت د تامین د ګډوډولو لامل شوې دي. د دغې منفي پدیدې د له منځه وړلو په موخه د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د ملي امنیت لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي چې د وسلو د راټولولو تر پروګرام لاندې، په سراسر افغانستان

کې په جديت سره اقدام وکړي، سرغړوونکي او غاصبين دې د عدلي تعقيب لپاره اړوندو مراجعو ته معرفي او خپل رپوټ دې په مياشتني ډول د چارو د ادارې لوی رياست او وزيرانو شورا د دارالانشا له لارې د ا.ا. جمهوري رياست ته وړاندې کړي؛

۱۳. د ملي دفاع، کورنيو چارو، کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارتونو او د ملي امنيت لوی رياست ته لارښوونه کيږي څو د خپلو منسوبينو د حقونو په رعايت، د ټيپانو د ګرندۍ تداوۍ او د ملي اردو، ملي پوليسو او ملي امنيت د شهيدانو حقونو په بيړنۍ توګه د اجرا کولو په برخه کې جدي پاملرنه وکړي او د هرو دريو مياشتو په ترځ کې يو ځل د وزيرانو شورا ته د خپلو کړنو په هکله رپوټ وړاندې کړي؛

۱٤. د اقتصاد او ماليې وزارتونه، د چارو د ادارې لوی رياست او د وزيرانو شورا دارالانشا، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو مستقل کميسيون او د جمهوری رياست د مقام دفتر موظف دي څو موازی ادارې لکه (PAD/PMU/PIU) او نور هغه جوړښتونه چې په موقت ډول د کورنيو او بهرنيو پروژو پر بنسټ کار کوي، د يوې مياشتې په ترځ کې وڅيړي او د هغو د شتون ضرورت او دلايل دې د وزارتونو او ادارو د اصلي تشکيلاتو په څنګ کې د وزيرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۱۵. ټولو دولتي ارګانونو ته يو ځل بيا هدايت ورکول کيږي څو له دولتي لوړرتبه اراکينو، د هغو ګومارل شويو کسانو او د دوی تر ملاتړ لاندې اشخاصو سره د قراردادونو، ودانولو او تدارکاتي، دولتي لوړپوړو اراکينو ته د خدماتو د وړاندې کولو د مقاولو له لاسليکولوڅخه په جدي توګه ډډه وکړي. د داسې اعمالو ترسره کول د اداري فساد جرم ګڼل کيږي او مرتکبين يې د ا.ا. جمهوريت د لويې څارنوالۍ لخوا د عدلي تعقيب وړ پيژندل کيږي؛

۱٦. لويه څارنوالۍ بايد د امن او عامه نظم د تامين د څارونکي په توګه، د ټولو خلکو د باور او ډاډ وړ وي. له دې امله د هېواد ټول څارنوالان موظف دي څو خپلې دندې او واکونه په داسې ډول ترسره کړي چې د دوي د اصلاح ښکارندوی او د دولت د کارمندانو او ټولنې د وګړو د اصلاح لامل شي. په دې برخه کې له فساد سره د مبارزې عالي اداره، جنايي پوليس، ملي امنيت او د مالي تفتيش ادارې دنده ده چې له څارنوالۍ سره د موازي ادارې په توګه نه، بلکې د مرسته کوونکي په توګه، د

جرمي اسنادو، شواهدو، دلايلو د لاسته راوړلو په لاره کې، څارنوالۍ سره مرسته وکړي، قانون ماتوونکي او په فساد ككړ عناصر وپېژني او د عدلي تعقيب لپاره يې څارنوالۍ ته معرفي کړي؛

۱۷. هېوادوالو ته د عام المنفعه ښو خدمتونو د وړاندې کولو د تنظيم په موخه، تر هغه وخته چې د ښاروالیو لپاره د ټاکنو زمینه برابرېږي، د ښاروالانو د ګومارلو بهیر دې له دې وروسته په لوړو پستونو کې د ټاکنو لپاره د ولسمشر د خاص مشورتي بورد په سلسله، او د سیمه ییزو ارګانونو د مستقلې ادارې په وړاندېز تر سره شي. د سیمه ییزو ارګانونو مستقله اداره موظفه ده چې د دريو مياشتو په ترځ کې د ولايتونو او عمده ولسواليو ښاروالان، د شرايطو لرونکو وړ، پاکنفسه او مسلکي اشخاصو په معرفي کولو سره، د تعييناتو د بورد له لارې مقرر کړي؛

۱۸. د کورنيو چارو، لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو، د هېواد د عالمانو شورا، د جوماتونو امامانو،خطيبانو، ښوونکو او روڼ آندو په همکارۍ، د اطلاعاتو او فرهنګ او حج او اوقافو وزارتونه موظف دي چې خلك د ملي يو والي تامين، ټولنيز وفاق، دوستۍ او ورور ولۍ، سولې او پخلاينې او د خير په لار کې مرسته کولو ته دعوت کړي او له هغو تبليغاتو او خپرونو څخه چې د ټولنې له آدابو او نظام سره مخالف وي او هر هغه څه چې د ځوانانو د انحراف او په ټولنه کې د منفي انګيرنو لامل کيږي، په جدي ډول مخنيوی وکړي؛

۱۹. سلاکار وزيران او د جمهوري رياست سلاکاران، د جمهوري رياست د مقام او خلکو تر منځ د اړيکو د پله رول لري. له دې امله دې، حکومت ته د خلکو د نظرونو او مشورو د لېږدولو په لاره کې کار وکړي او نوموړې اړيکې دې بنسټيزې کړي او په مياشتني ډول دې د خپلو کړنو په اړه د چارو د ادارې لوی رياست او وزيرانو شورا دارالانشا له لارې د جمهوری رياست مقام ته رپوټ ورکړي.

**دويم– د ملي دفاع وزارت موظف دی:**

۱. د دوو مياشتو په ترځ کې د ماليې، اقتصاد او عدليې وزارتونو په مرسته د نوموړي وزارت د تدارکاتي چارو بياکتل شوی، روڼ او مکمل ميکانيزم ترتيب او وزيرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ملي اردو د ترفیعاتو، مقررئ او تبدیلئ روښانه او عادلانه پالیسي تنظیم او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي؛

۳. د درې میاشتو په ترځ کې دې، د بهرنیو بنسټونو چې د انتقال په پروسه کې شامل دي د ملکیتونو، د وسلو او لوازمو د ثبت، سجل او تشریح میکانیزم ترتیب او د وزیرانو شورا له تایید وروسته د مسوولیتونو د اخیستلو پر مهال دې ، د هغه په عملي کولو لاس پورې کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترځ کې دې د وسله والو ځواکونو په ځانګړې توګه د هوایي قواوو تسلیحاتي اړتیاوې د امریکې د متحده ایالاتو او د ناتو له نورو غړو هېوادونو سره د نړیوالو توافقاتو سره سم تر بحث لاندې ونیسي او د پایلې په هکله دې د امنیت ملي شورا او د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛

۵. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د ځواکونو د ځای پرځای کولو طرحه د انتقال د بهیر د تفصیلی پلان په رڼا کې بیا وګوري، د کار د پایلو په اړه دې په هرو دوو میاشتو کې د ملي امنیت شورا او د وزیرانو شورا ته رپوت ورکړي؛

٦. د بګرام د زندان او زندانیانو لیږد دې په کاري لومړیتوب کې شامل کړي او له مخکې ټاکل شوې مودې سره دې سم بشپړ شي.

۷. د ډګروالئ تر رتبې پورې په شرایطو برابرو منسوبینو ترفیعات دې سږکال د زمري میاشتې له اته ویشتمې نیټې څخه مخکې اجرا شي.

**دریم- د کورنیو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د دوه میاشتو په ترځ کې دې، د محکمو هغه حکمونه چې د عامه او خصوصي ملکیتونو د غصب په اړه نهایي شوي او د کورنیو چارو وزارت ته ابلاغ شوي دي، عملي کړي او د خپل کار د پایلو په اړه دې د چارو ادارې لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا ته لیکلی رپوټ وړاندې کړي؛

۲. د درې میاشتو په ترځ کې دې، د سیمه ییزو پولیسو تشکیلات بیا وڅیړي، له هغو سره موازيِ ګروپونه او جوړښتونه دې، د ملي امنیت د شورا د پخوانئ پریکړې مطابق، په سیمه ییزو پولیسو کې مدغم او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې د هېواد په محبسونو او زندانونو کې د معیشت او بشري حقونو د وضعیت په هکله د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې، د معلوماتي تکنالوجۍ او مخابراتو وزارت په مرسته د الکترونیکي تذکرو د پروژې د لومړنۍ مرحلې د تطبیق د څرنګوالي په هکله د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، د کابل ښاروالۍ په همکارۍ د کابل په ښار کې د ترافیک پولیسو د فعالیت د ښه والي طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٦. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، د ځواکونو د ځای پرځای کولو طرحه د انتقال د بهیر د تفصیلي پلان په رڼا کې بیا وګوري، د کار د پایلو په اړه دې په هرو دوو میاشتو کې د ملي امنیت شورا او د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛

٧. د سمونوالۍ تر رتبې پورې په شرایطو برابرو منسوبینو ترفیعات دې سږکال د زمري میاشتې له اته ویشتمې نیټې څخه مخکې اجرا شي؛

٨. په ژر ممکن وخت او د جمهوري ریاست د مقام د پخوانیو حکمونو او پرېکړو مطابق دې، د امنیتي کمپنیو په بشپړ منحلولو او د کورنیو چارو وزارت ته د هغوی د شتمنیو په لېږدولو کې اقدام وکړي.

**څلورم- د بهرنیو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې، ټولې قانوني، شکلي او محتوایي تخطي ګانې چې د نړیوالو موافقتنامو د انعقاد په وخت کې صورت موندلی، د هغو وزارتونو او ادارو لست چې له دوه ځله زیات یې د نړیوالو معاهداتو له قانون څخه سرغړونه کړې وي، د وزیرانو شوراته وړاندې کړي؛

۲. د درې میاشتو په ترڅ کې دې، د دیپلوماتانو د استخدام میکانیزم او د هغوی کاري وړتیاوې بیا و ارزوي، ځانګړي اصلاحي وړاندیزونه دې د تصمیم نیولو لپاره د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، له هېواد څخه بهر ټولې سیاسي نمایندګۍ (د فرهنګي سوداګریزو، ترانسپورتي، پوځي او له هغوی سره د ټولو تړاو لرونکو تشکیلاتو په شمول) له اړوندو ارګانونو سره په همغږۍ کې وڅېړي، د هغوی د

تشکیلاتو د ساتلو یا لغو کولو په اړه دې ځانګړي وړاندیزونه د افغانستان اسلامي جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي.

**پنځم- د عدلیې وزارت موظف دی:**

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د قراردادونو، میثاقونو او نورو بین المللي اسنادو د ترجمې حقوقي بورد فعال کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د چارو ادارې لوی ریاست او وزیرانو شورا د دارالانشا او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د مستقل کمیسیون په همکارۍ د حکومت د اساسي تشکیلاتو قانون ته بیا کتنه وشي او د وزیرانو شورا ته واستوي؛

۳. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د تدارکاتو د قانون د بیا کتل شوې طرحې پړاوونه بشپړ کړي؛

٤. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د ټاکنو قانون بشپړ او د تصویب لپاره د وزیرانو شورا ته واستوي؛

۵. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د ښاروالیو قانون او د لویې ښاروالۍ قانون بشپړ او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**شپږم- د لویې ښاروالۍ اداره موظفه ده:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، په توقیف خانو کې ټول کسان، د اړوندو ښاروالیو لخوا وڅېړل شي، له مادي دلایلو څخه پرته دې له توقیفولو څخه مخنیوی وشي او په توقیف خانو کې د توقیف شویو کسانو بشپړ لست دې د اتهام له توضیح سره یو ځای برابر او د عدلي او قضایي کمېټې ته وړاندې شي؛

۲. د دې فرمان د صادریدو له نېټې څخه په اعتبار دې، د ولایتونو د ښاروالیو د رییسانو مقرري لکه د وزارتونو او نورو ادارو د رییسانوپه شان، د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست مقام ته وړاندیز وشي؛

۳. د دوو میاشتو په ترځ کې دې ، د عدلیې وزارت په مرسته د څارنوالۍ او عدلیې وزارت تر منځ، حقوقي او جزایي دوسیو ته د رسیده ګۍ په منظور، د دندو په تفکیک اقدام وشي او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ ورکړي؛

٤. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د څارنوالۍ د مراقبت اداره جوړه او یا دې د دغه واک سپارل د سترې محکمې د قضایي مراقبت ادارې ته و څیړل شي او ځانګړې طرحه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې د عدلیې وزارت په همکارۍ د حبس د بدیل طرحه برابره او وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٦. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په ولسوالیو کې غیر فعالې څارنوالۍ فعالې او په مسلکي پرسونل اکمال کړي؛

۷. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د څارنوالۍ ټول مسلکي او حمایوي پرسونل وڅیړي او په فساد اخته کادرونه دې وپېژني، ځانګړي تدابیر دې ونیسي او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي.

**اووم- له اداري فساد سره د مبارزې عالي اداره موظفه ده:**

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، په دولتي ادارو او خصوصي برخو کې له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ شاخصونه تر څارنې لاندې ونیسي او پایلې یې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې د خصوصي موسسو او دولتي چارواکو شکمنې شتمنۍ و ارزوي او د پایلو رپوټ دې په هرو دوو میاشتو کې یو ځل د ا.ا. جمهوري ریاست مقام ته ورکړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د هغې ادارې ټول مسلکي او حمایوي پرسونل وڅیړي، په فساد اخته کادرونه دې وپیژندل شي، ځانګړي تدابیر دې ونیول شي او د پایلو په هکله دې د جمهوري ریاست مقام ته رپوټ ورکړي؛

**اتم ـ د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره موظفه ده:**

۱. د یوې میاشتې په ترڅ کې دې، د والیانو پستونه له سره و ارزوي او د لازمواصلاحاتو په هکله دې، د جمهوري ریاست مقام ته مشخص وړاندیزونه وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترڅ کې دې، د ولایاتو د مرستیالانو پستونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په مرسته آزادې سیالۍ ته وړاندې شي، د وطندوستو، صادقو، لایقو او وړ کدرونو په استخدام دې اقدام وکړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې، د ښاروالیو د قانون طرحه او د ښاروالیو اړوند نورتقنیني اسناد، د پړاوونو د وهلو په منظور د عدلیې وزارت ته ولیږي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، د ولایتي تشکیلاتو کمبودات د وزارتونو او دولتي ادارو په مرسته د وړ کدرونو په استخدام سره بشپړ کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې د اقتصاد، کورنیو چارو او مالیې وزارتونو او نورو اړوندو بنسټونو په مرسته، دایمي حکومتي جوړښتونو ته د ولایتي بیا رغاونې د ټیمونو د فعالیت د تعویض او له دولتي موجودو جوړښتونو سره د هغو د مطابقت په هکله میکانیزم جوړ او د وزیرانو شورا ته دې وړاندې کړي؛

٦. د ۱۳۹۲- ۱۳۹۳ کلونو په ترڅ کې دې، د کورنیو چارو او مالیې وزارتونو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د ولسوالانو او امنیه قوماندانیو د دفترونو لپاره، اداري ودانۍ بشپړې کړي.

**نهم- د چارو اداري لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا موظف دی:**

۱. د دوو میاشتو په ترڅ کې دې د دولتي اراکینو د سفرونو د تنظیم د طرزالعمل طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، له موقت حکومت څخه تر اوسه پورې د لا اجرا مصوبو او د جمهوري ریاست د فرمانونو او حکمونو لست د وزارتونو او ادارو په تفکیک سره برابر او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د اقتصاد وزارت په همکارۍ د کرنې او اوبو لګولو او انرژۍ او اوبو وزارتونو تر منځ د اوبو د موضوع پر سر کاري تداخل وڅېړي او مشخصه طرحه دې د وزیرانوشورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د اقتصاد وزارت په همکارۍ د اوبو او انرژۍ وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت تر منځ کاري تداخل وڅېړي او پایلې دې د برېښنا د صرفیې د ستونزو د حل په اړه له مشخصې طرحې سره یو ځای، د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترځ کې دې،د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون په همکارۍ پر حکومتي تشکیلاتو بیاکتنه وکړي،د له منځه وړلو، ادغام او د مشخصو مواردو په ذکر سره د موازي اداراتو د اصلاح د وړاندیزطرحه دې د ا.ا. جمهوری مقام ته وړاندې کړي؛

٥. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د هغه شمېر کسانولست چې له هېواد څخه بهر یې د ماسترۍ او یا له هغه څخه لوړې زده کړې کړي وي او په دولت کې کار کولو ته چمتو وي، برابر او له شرایطو سره سم، په وړ بستونو کې د دوی د استخدام په برخه کې دې د ا.ا. جمهوري مقام له هدایت اخیستلو وروسته اجراآت وکړي؛

٦. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د عدلیې وزارت په همکارۍ، د لوړرتبه هغو دولتي اراکینو چې د خدمت د دورې له تکمیل وروسته وزګارېږي، د استمراري حقونو د ترلاسه کولو پالیسي جوړه او وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**لسم- د حج او اوقافو وزارت موظف دی:**

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې،د ایمه د ظرفیت د لوړلو او ارشادي چارو د سمون لپاره لږ تر لږه لس د زده کړې کورسونه ترتیب او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ ورکړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د وقفي املاکو د تثبیت، استرداد او پراختیا او د هغو له عوایدو نه د استفادې د څرنګوالي طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د فرضي حج او عمرې د حج بهیر د لا ښه تنظیم لپاره دې کوښښ وکړي.

**یولسم- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو مستقل کمیسیون موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د CBR او هغه ته ورته پروژو دتطبیق او اړتیا د جزییاتو په هکله د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛

۲. د یوې میاشتې په ترځ کې دې د کمیسیون جوړښت او د تعییناتو د بوردکمیشنرانو او د ملکي خدمتونو د لوی ریاست په شمول د ټول پرسونل ګومارل بیا وڅېړل شي د کمیسیون په مهمو پستونو کې د لوړو معیارونو او د استخدام د اقل حد شرایطو په پام کې نیولو سره دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمیسیون کې د داخلي اصلاحاتو په هکله ځانګړې طرحې د ا.ا. جمهوری ریاست مقام ته وړاندې کړي؛

۳. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د ځوانو کدرونو د استخدام په موخه د لومړنی سراسري آزموینې د اخیستنې نېټه وټاکي او د نوموړې آزموینې میکانیزم دې د رسنیو له لارې خپور کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د دولت کارکوونکو د کاري مصوونیت او د ملکي خدمتونو په جمله کې د معینیتونو د شمولیت جامع طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**دولسم- د ټاکنو خپلواک کمیسیون موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د **۱۳۹۳** کال کې د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره د نومونو د ثبتولو طرحه ترتیب او د وزیران شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، منظمه او رڼه ټاکنیزه کړنلاره چې د خلکو ګډون په کې تضمین شي جوړه او د جمهوري ریاست، ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره دې، جامع مهالوېش برابر کړي؛

**دیارلسم– د پوهنې وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، لږ ترلږه څلور د لنډې مودې کورسونه د څلویښت زره ښوونکو د ظرفیت د لوړولو لپاره جوړ او له تطبیق څخه یې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، په ملي او سیمه ییزه کچه د پوهنې د بنسټونو د ساتنې او څارنې پالیسۍ ته پراختیا ورکړي او هغه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، خصوصي او دولتي ټول ښوونځي تر ارزونې لاندې ونیسي او د هغو ښوونځیو چې د هېواد د پوهنې د پالیسیو پر خلاف اقدام کوي او یا یې د تدریس کیفیت معیاري نه وي، جدي اقدام وکړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو او لوړو زده کړو وزارتونو په همکارۍ د ثانوي تدریساتو د بنسټونو او تخنیکمونو په شمول د حرفوي زده کړو ټولو چارو د پرمخ وړلو په موخه د مشخص اداري واحد د را منځ ته کولو لپاره، خپله طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد په مرکز او ولایتونو کې په شرایطو برابرو ښوونکو او استادانو او د آزادې سیالۍ او د قابلیتونو د تثبیت له لارې د ۱۱۰۰۰ تنو نوو ښوونکو او کارکوونکو د استخدام په اړه اقدام وکړي او هره میاشت دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٦. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په کلیوالي سیمو کې د ښځینه ښوونکو د روزنې د زمینې د برابرولو په موخه، د ولسوالیو په کچه د ښوونکي د روزنې حمایوي مرکزونه له ۱۱۱ بابه څخه ۱۸۰ بابه ته زیات کړي؛

۷. د ۱۳۹۲ کال د تعلیمي کال له پیل څخه دې، د هېواد پالنې د حس د پیاوړي کېدو لپاره د دولتي او خصوصي ټولو ښوونځیو په درسي نصاب

کې د حب وطن مضمون شامل کړي او د هغه له سم تدریس څخه دې څارنه وکړي.

**څوارلسم- د لوړو زده کړو وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د کانکور آزموینې د اخیستلو میکانیزم بشپړ او د تصویب لپاره د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د بهرنیوچارو وزارت په همکارۍ په بهر کې د افغاني محصلینو ستونزې وڅیړي، د محصلینو د ستونزو د عملي حل لپاره دې، خپل مشخص وړاندیز د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د لوړو زده کړو ټولې خصوصي موسسې تر ارزونې لاندې ونیسي او د لوړو زده کړو د هغه شمېر موسساتو د معیاري کولو په برخه کې چې د هېواد د لوړو زده کړو د پالیسیو پرخلاف اقدام کوي، او یا په هغو کې د تدریس کیفیت معیاري نه وي، اقدام وکړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د ۱۳۹۲ تعلیمي کال له پیل څخه د هېواد د ټولو پوهنتونونو د طب او انجنیرۍ په پوهنځیو کې په انګریزي ژبه د تدریس د بهیر د پیل په اړه، مشخصه طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۵. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د خصوصي پوهنتونونو له فارغانو نه د دولتي آزموینې د اخیستلو اړتیا وڅیړي او د ایجاب په صورت کې دې، مشخصه طرحه ، او د نه لزوم په صورت کې دې خپل دلایل د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**پنځلسم- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت موظف دی:**

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د غزني په ښار کې د اسلامي ثقافت د مرکز د کار د بهبود لپاره، د غزني ولایت د والي په شمول، د اړوندو بنسټونو تر منځ همغږی شوی عملي پلان د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د دولتي او خصوصي رسنیو د خپرونو د کیفیت د کنترول او د حد اقل معیارونو د وضع کولو په خاطر، خپله مشخصه طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ملي ژبو، لهجو، ملي اصطلاحاتو، د هېواد له معمولو ادبیاتو نه د نا مانوسه بهرنیو اصطلاحاتو د حذف، د ملي وحدت د ټینګښت، د غوره او منل شوو افغاني دودونو رعایت او د دولتي او خصوصي ټولیزو رسنیو له لارې د هېواد د بډایه فرهنګ د انعکاس په برخه کې عملي اقدام تر سره او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ وړاندې کړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د لرغونو آثارو د ساتنې او ترمیم پالیسي برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**شپاړسم– د عامې روغتیا وزارت موظف دی:**

۱. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، ټول خصوصي او دولتي روغتونونه تر ارزونې لاندې ونیسي او د هغه شمېر روغتونونو د معیاري کولو په موخه چې د هېواد د عامې روغتیا وزارت د پالیسیو پر خلاف اقدام کوي او یا یې د خدمتونو د وړاندې کولو کیفیت ټیټ وي، جدي اقدام وکړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد په بازارونو کې د درملو د واردولو او تولید بهیر له کمي او کیفي پلوه وڅېړي، خپل مشخص نظریات او اصلاحي وړاندیزونه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د یوه کال په ترځ کې دې، د ولایتونو او ولسوالیو روغتونونو د معیاري کولو په برخه کې اقدام وکړي او د حکومت لخوا د دوامداره او با کیفیته روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره دې، د آسانتیاو زمینه برابره او بنسټیزه کړي.

**اوولسم- د ماليې وزارت موظف دی:**

۱. د يوې مياشتې په ترڅ کې دې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون په مرسته دګټورې مخه ښې( ګولډن هند شک) طرحه بشپړه او د وزيرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د يوې مياشتې په ترڅ کې دې، د کابل بانک حسابونه د کابل بانک د تصفيې د پلاوي لخوا بشپړ او د جمهوري رياست مقام ته دې رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د دوو مياشتو په ترڅ کې دې، د توکيو د کنفرانس د ژمنو د پيګيري طرحه جوړه او عملي کړي او د چارو له پرمختګ څخه دې د وزيرانو شورا ته مياشتنی رپوټ وړاندې کړي؛

٤. د دوو مياشتو په ترڅ کې دې، د دې وزارت د هغو کارمندانو په هکله چې له نړيوالو موسسو څخه معاش اخلي او يا يې معاشونه د نړيوالو موسسو لخوا تنظيميږي، د معاشونو د اندازې او د قرارداد د مودې په اړه له معلوماتو سره د وزيرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٥. د دريو مياشتو په ترڅ کې دې د ارزاقو د تصدۍ، سيلوګانو او ملي بس برخليک وټاکي او د ټولو تصديو د برخليک د ټاکلو په هکله دې خپل ځانګړی پلان د وزيرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٦. د دريو مياشتو په ترڅ کې دې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کميسيون په همکارۍ د ملکي خدمتونو دکارکوونکو د معاشونو د يو شان کولو په هکله طرحه جوړه او د وزيرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۷. د دريو مياشتو په ترڅ کې دې، د دولتي عوايدو د مجموعې د بهبود او د داسې بودجې د پراختيا او اجرا لپاره د اړوندو وزارتونو د ظرفيتونو د لوړولو طرحه چې د اړتياوو د تلفيق او ملي لومړيتوبونو ځواب ويونکې وي جوړه او له نوو عايداتي سرچينو سره معرفي کړي ؛

۸. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو لپاره د هغې بودجې مصرف چې د ملګرو ملتونو د موسساتو لخوا تمویلیږي، د ملي بودجې له لارې برابر کړي؛

۹. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، په هېواد کې د ټولو موجودو د بیمې شرکتونو د قانونیت، منصفانه والي او د فعالیت څرنګوالی وڅېړي او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ وړاندې کړي.

**اتلسم- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترڅ کې دې، د اړتیاوو او د هېواد د سوداګرۍ د حجم پر بنسټ، په بیلابیلو هېوادونو کې د سوداګرۍ د آتشو د شمېر او د هغو د ټاکنې د میکانیزم په اړه د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترڅ کې دې، د صنعتي پارکونو د معیاري کولو او د ستونزو د حل په اړه خپله مشخصه طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې،د وارداتو د تعویض او ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د کوچنۍ او متوسطې ملي سوداګرۍ له پراختیا سره د کورنیو تولیداتو د صنعت د پیاوړي کېدو لپاره خپله مشخصه طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترڅ کې دې، د ملي سوداګرۍ پالیسي جوړه او د وزیرانو شورا اقتصادي کمېټې ته وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترڅ کې دې، په هېواد کې د تیلو ستراتیژیکې زېرمې تکمیل او د هغو د تداوم میکانیزم دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**نولسم- د اقتصاد وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترڅ کې دې، د ښاروالیو د پروژو په شمول د انکشافي پروژو د څارنې لپاره، مشخصې طرحې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د مالیې او مخابراتو او تکنالوجۍ وزارتونو په همکارۍ ټول دولتي قراردادونه چې د تېرو دریو کلونو په ترځ کې له ملي او نړیوالو کمپنیو او بنسټونو سره عقد شوي د قراردادونو له ټولو جزییاتو سره ( د قراردادونو په لنډیز دې اکتفا نه کیږي) ، د انتر نیتي پاڼو او اړوندو بنسټونوله لارې خپاره کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ملي اقتصاد د پالیسۍ او د اقتصادي مراوداتو په برخه کې د اړینو تعریفونو لپاره، خپله مشخصه طرحه د وزیرانو شورا اقتصادي کمېټې ته وړاندې کړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د مالیې وزارت سره په تفاهم کې د راتلونکو څلورو کلونو لپاره پرمختیایي پلان ترتیب او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د توکیو (۲۰۱۲کال) د کنفرانس د پرېکړو په رڼا کې د بنسټیزو پروژو او د هېواد د سترو ا قتصادي پروژو عملي او تحققي میکانیزم د اړوندو بنسټونو په همکارۍ ترتیب او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**شلم- د افغانستان بانک موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د هېواد د هوایي ډګرونو له لارې د بهرنیو اسعارو پر خروج د څارنې پالیسي تطبیق او د پایلو په اړه دې د ا.ا. جمهوري ریاست مقام ته رپوټ وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د افغانۍ د رواجولو او د هېواد د بازارونو په ورځنیو مراوداتو کې د نغدو پیسو په ډول د بهرنیو اسعارو د کارولو د مخنیوي لپاره خپله مشخصه طرحه برابره، عملي او د ا.ا. جمهوري ریاست مقام ته رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د خصوصي بانکونو د کړنو د څرنګوالي په اړه مکمل رپوټ د ا.ا. جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي او د

خصوصي بانکونو د فعالیت څارنې ته  دې د کارپه لومړیتوبونو کې ځای ورکړي.

**یو ویشتم- د کانونو وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د بهرنیو مشاورینو بشپړ لست، د هغو د استخدام مراجع او د استخدام دلایل، د وزارت د هغو داخلي کارمندانو له لست سره یوځای چې له بهرنیو سرچینو څخه تمویلیږي او یا له هغوی نه اضافي امتیازات اخلي، په لیکلي ډول د چارو ادارې لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا ته وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد د کانونو او پترولیم قانون بشپړ او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دوو میاشتو په ترځ کې دې،د کانونو د په خپل سر او غیر مسلکي کیندنو د مخنیوي او د کانونو د امنیت د تامین لپاره خپلې مشخصې طرحې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د هغه شمېر اشخاصو او شرکتونو لست چې په خپل سر او د قوانینو پر خلاف د افغانستان د کانونو په کیندنه لاس پورې کوي، د ټولیزو رسنیو له لارې خپور کړي؛

٥. د دریو میاشتو په ترځ کې دې،د هېواد د کانونو په قراردادونو کې د رڼښت د تامین لپاره مشخصه طرحه بشپړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. د نړیوالو منل شویو اصولو پر بنسټ په قراردادونو کې رڼښت او د هېواد راتلونکې ته پاملرنه دې د  کار په لومړیتوبونو کې راولي او د قراردادونو ټول  جزییات دې ( د قراردادونو په خلاصه دې اکتفا نه کیږي)د کانونو، مالیې او اقتصاد وزارتونو د ویب سایټ له لارې خپاره کړي.

**دوه ویشتم- د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجۍ وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د مخابراتي شرکتونو په خدماتو کې ښه والی باوري کړي، د مشترکینو د ټیلفوني خبرو مصوونیت او محرمیت  او

په ترهګریزو بریدونو کې له موبایل ټیلفونونو څخه د نه استفادې د زمینو د تامین په اړه دې د ملي امنیت شورا ته رپوټ ورکړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د الکترونیکي حکومت د پروژې په اړه د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي.

**درویشتم- د انرژۍ او اوبو وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د مچلغو، پاشدان، شاه او عروس، سلما، المار او کمال خان بندونو د کار د پرمختګ او د جلال آباد ښار ته د نغلو او سروبي د برښنا د انتقال د څرنګوالي په اړه د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د افغانستان برښنا شرکت په مستقیمه مرسته د کابل ښار او د هېواد په نورو لویو ښارونو کې د برښنا د وېش لپاره د شبکو جوړولو د کار د پیل په اړه د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په اوږد مهال کې د برښنا انرژۍ د تامین له پلوه د هېواد په ځان بسیاینې لارې، د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد جنوبي، شرقي او د بامیانو او دایکندي په شمول مرکزي سیمو ته د برښنا د لېږد بهیر ترفني او تخنیکي ارزونې لاندې ونیسي او مشخصې طرحې دې، د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**څلورویشتم- د فواید عامې وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د افغانستان د وسپنې د پټلۍ اداري د تاسیس او برخلیک په اړه اقدام وکړي؛

۲. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د نړیوال ایتلاف له لوري ژمنه شوو پنځه ملیونه ډالرو نه په استفادې سره، د سالنګونو ترمیم پیل او د سالنګونو د بیارغاونې او دوشي پلخمري سړک د جوړېدو د کار پرمختګ په اړه دې په منظم ډول د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د ټولو نیمه کاره پروژو لست د هغو د کار د بیرته پاتې کېدو او کار درېدو  د دلایلو په ذکرولو سره برابر او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د لویو لارو د ساتنې او څارنې پلان برابر او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. د فواید عامې وزارت موظف دې چې د لویو لارو د ساتنې او څارنې  او سړکونو د ودانولو د کیفیت کنترول د خپل کار په لومړیتوب کې راولي.

**پنځه ویشتم- د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت موظف دی:**

۱. د درې میاشتو په ترځ کې دې، د ځمکني ترانسپورت د عوایدو د راټولولو، روڼ، جامع او تجدید نظر شوی میکانیزم د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د ښاري ترانسپورت د بهبود طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، انتقالاتي حجم ته په پاملرنې سره په بهر کې د ترانسپورتي نمایندګیو شمېر او تشکیل ته بیا کتنه وکړي او د پایلې په اړه دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٤. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ولایتونو او ولسوالیو په تفکیک سره  د هېواد په ولایتونو کې د هوايي ډګرونو د پراختیا او بیا رغاونې مشخصه طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۵. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په ټول پرسونل او تشکیلاتي جوړښت باندې بیا کتنه وکړي او په فساد اخته کدرونه دې وپیژندل شي، ځانګړي تدابیر دې ونیول شي او د جمهوري ریاست مقام ته دې رپوټ ورکړي.

**شپږ ویشتم- د ښارجوړولو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د کابل د نوي ښار تشکیلاتي جوړښت او ماستر پلان مطالعه او ځانګړې طرحه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د عدلیې وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د مستقل کمیسیون او په ساختماني ، کانونو او انرژۍ او اوبو په چارو کې د جمهور رییس د سلاکار په مرسته د ښاروالیو په خاصه توګه د کابل ښاروالۍ او ښارجوړولو چارو وزارت تر منځ د وظیفوي تداخل د تصفیه کولو طرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د کابل ښار او نورو ولایتونو ماسترپلانونه بیا وکتل شي او د وزیرانو شورا ته وړاندې شي؛

٤. د دریو میاشتو په ترځ کې دې د جمهوري ریاست د مقام د (۱۳۹۱) کال د چنګابښ د میاشتې د اوومې نېټې په (۲۲۳۲) ګڼه حکم کې د ټاکل شوي پلاوي په مرسته، د ټولو دولتي او خصوصي ښارګوټو اسناد په فني او دقیقه توګه و ارزوي، موجودې ساختماني نیمګړتیاوې او همدغه رازد ځمکې مالکیت پورې اړوندې ستونزې په ګوته او د قانوني اجرااتو لپاره دې د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي.

**اوه ویشتم- د کرنې او اوبو لګولو وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد د بزګرانو د کرنیزو محصولاتو لپاره د بازار موندنې او د هغو د مالي او تخنیکي بنسټونو د پیاوړتیا لپاره، خپله مشخصه طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونو، لویې څارنوالۍ، له فساد سره د مبارزې عالي ادارې او د سیمه ییزو ارګانونو مستقلې ادارې په مرسته، د هېواد په کچه ( په لومړي ګام کې په لومړۍ درجه ولایتونو او بیا په نورو ولایتونو کې) د غصب شوو دولتي او شخصي املاکو په اړه کره معلومات را ټول او د پرېکړې لپاره دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د وزیرانو شورا د ۱۳۹۱ کال د دریمې شمېرې مصوبې له فیصلې سره سم، د سړو خونو د ایجاد په برخه کې اقدام وکړي او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ وړاندې کړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، له بکر او بایر ځمکو څخه د استفادې په اړه د خپلو عملي اجراآتو رپوټ د ا.ا. جمهوري ریاست مقام د مخکنیو احکامو له لارښوونې او د کابینې له فیصلو سره سم، جوړ او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٥. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په ټول هېواد کې د کرنیزو فارمونو د پراختیا لپاره خپلې مشخصې طرحې برابرې او د هغو عملي پروګرامونه دې د ۱۳۹۲ کال په بودجه کې شامل کړي او د کار د پرمختګ په اړه دې د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

٦. د ځنګلونو په خاصه توګه د پستې او ځلغوزیو د ځنګلونو د پراختیا او ساتنې په برخه کې دې، لازم اقدام وکړي او د وزیرانو شورا ته دې رپوټ وړاندې کړي.

**اته ویشتم- د کلیو د پراختیا او بیارغاونې وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، د بودجې ، مشخص ځای د تمویل څرنګوالی او د مسولینو په یادونې سره  د ملي پیوستون د پروژو د دویم پړاو، د ولایتونو او ولسوالیو په تفکیک سره د وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د پلونو او پلچکونو د ترمیم او بیا رغاونې او نورو تاسیساتو چې د روان کال د سیلابونو او طبیعی پېښو له امله خراب شوي د ولایتونو او ولسوالیو په تفکیک سره د کړنو رپوټ د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ولایتونو او ولسوالیو له پرمختیایي شوراګانو نه د واحدو شوراګانو په توګه چې د څو ګونو شوراګانو لکه له نشه یي توکو سره د مبارزې شورا او نورو شوراګانو ځای ناستې وي، د

ګټې اخیستلو لپاره مشخصه طرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**نهه ویشتم– له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت موظف دی:**

۱. د یوې میاشتې په ترځ کې دې، دا وزارت له پوره پالیسی جوړولو حالت څخه د وتلو او داسې حالت د غوره کولو چې وکولای شي عملاً له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې کړنې تر سره کړي، خپله ځانګړې طرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د کورنیو چارو له وزارت سره په همغږۍ د مماثلو تشکیلاتو لکه د نشه یي توکو سره د مبارزې معینیت او نورو ادارو ادغام وڅیړي او خپله مشخصه طرحه دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې د نورو وزارتونو د ګډون او همکارۍ طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**دیرشم– د شهیدانو، معلولینو، کار او ټولنیزو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د تقاعد نوی سیستم او متقاعدینو ته د بانکي حسابونو فعالول بشپړ او عملي کړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د تفتیش د عالي ادارې په مرسته شهیدانو ته د پیسو د وېش بهیر تر څېړنې لاندې ونیسي او د پایلو په هکله د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د کار د ایجادوونکو اداراتو سره په تفاهم کې د کار ملي پالیسي جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٤. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، بهرنیو وګړو ته د کار د الکترونیکي جواز ویشل بشپړ او د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي؛

۵. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې د مهارتونو د ودې او د شغل د ایجادولو برنامه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

٦. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد د زونونو په کچه د حرفوي ښوونکو د روزنې د مرکزونو او انستیتونو په جوړولو اقدام وکړي او د کار د پرمختګ په هکله دې هره میاشت د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي.

**یودیرشم- د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د راستنیدونکو د ښارګوټو د عادلانه وېش په هکله وزیرانو شورا ته رپوټ ورکړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د راستنیدونکو د کارموندنې، ښارګوټو جوړولو، ښوونې او روزنې په هکله ځانګړې طرحه د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۳. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، په ایران او پاکستان کې د افغان مهاجرینو د باعزته را ستنیدو پالیسي برابره او د وزیرانوشورا ته وړاندې کړي.

**دوه دیرشم- د ښځو چارو وزارت موظف دی:**

۱. د دریو میاشتو په ترځ کې دې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمښت د عامه پوهاوي کمپاین د ټولیزو رسنیو، منبرونو، تکیه خانو او نورو د خبر رسولو وسایلو له لارې تر سره کړي؛

۲. د شپږو میاشتو په ترځ کې دې، د ښځو لپاره د ملي کاري پلان د تطبیق د څارنې سیستم او تشکیل بشپړ او لومړنی رپوټ دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**دري دیرشم- د کابل ښاروالۍ موظفه ده:**

۱. د دوو میاشتو په ترځ کې دې، د مخابراتو او تکنالوجۍ وزارت په همکارۍ د کابل ښار د ټولو ځایونو د نوم ایښودنې لپاره، او د غیر پلاني

سیمو د برخلیک ټاکلو مشخصه طرحه برابره او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛

۲. د څلورو میاشتو په ترځ کې دې، د کابل ښار د کانالیزاسیون او نورو ښاري شبکو د را منځ کیدوطرحه جوړه او د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

په دغه فرمان  او د هغه په ضمایمو کې چې وروسته خپریږی، راغلې دندې د وزارتونو او ادارو ورځنۍ دندې نه اخلالوي. ټول وزارتونه او دولتي ادارې په دغه فرمان او د هغه په ضمایمو کې د راغلو دندو په تعمیل مکلف دي.

د چارو ادارې لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشا موظفه ده، د ښارنې د موجود میکانیزم په پیاوړي کولو په دغه فرمان او د هغه په ضمایمو کې شاملې دندې په دقیق ډول وښاري او د ښارنې د ولایتي ټیمونو په ګومارلو سره، کره معلومات را ټول د ا.ا. جمهوری ریاست مقام له هغو نه خبر او همدغه راز د وزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**